مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم ګل سحر ۲۰۱۸/۰۹/۲۷

# د موقت حکومت د مشرۍ، ارګ او د حکومت د لومړيو ورځو د تجربو په اړه د حامد کرزي څرګندونې

**له پخواني ولسمشر حامد کرزي سره مرکه کوونکی: علم ګل سحر**

د افغانستان پخوانی جمهور رییس حامد کرزی له اعلیحضرت محمد ظاهرشاه وروسته لومړنی افغان واکمن دی چې په ارګ کې يې تر نورو ډېر وخت تیر کړی، کله چې د افغان ولسمشر په توګه ارګ ته ننوت ارګ د تنظیمي جګړو له وجې په کنډواله بدل شوی و، د ده د واکمني په کلونو کې ارګ بیا ورغول شو. د ارګ تاریخ د نوي کتاب لپاره مو د ۱۳۹۵ کال د کب په پنځمه نیټه ورسره مرکه کړې چې ستاسې مخې ته يې ږدم. ع، سحر

**سحر :**

- ښاغلی کرزی صاحب لومړی ځل مو څه وخت ارګ ولید؟ څه احساس مو کاوه؟ د هغه وخت د ارګ په اړه څه دریادبړي؟

**کرزی:**

- پخوا مي ارګ هغه وخت لیدلی و چې د مجاهدینو اول حکومت جوړ سو او موږ له پېښور څخه راغلو کابل ته.

نو سهار راوړسېدو او په مختلفو ځایو کې سره ځای پر ځای سوو، بیا نو اوس زما هېر دي چې په دغه ماسپښین و، که په دغه ماښام و؛ خو بیا زه ارګ ته راغلم.

حضرت صاحب په ارګ کې و، نو ارګ مو ولید. دا نو د انګرېزانو په حساب ۱۹۹۲ کال و، زموږ په حساب ۱۳۷۱ کال دی.

د هغه وخت ډېر ښه خاطرات دي. خدای دي وبښي، صبور فرید د حزب اسلامی ډېر نیک مجاهد و. د حکمتیار صاحب معاون او د هغه لهخوا صدراعظم سو؛ نو په دا اوله دوره کې چې موږ ارګ ته راغلو، حکمتیار صاحب رانغی. په چهارآسیاب کې پاتي سو. صبور فرید د هغه صدراعظم و؛ نو په ارګ کې زموږ دویمه، دریيمه شپه وه چې د تاجیکستان یو هیات راغی.

په هیات کې د هغوی رئیس د شورا او وزیر داخله و، په کابل کې هغه وخت بل ځای نه و چې دا هیات هلته بوځو؛ نو د ارګ حرمسرای ته مو بوتلل.

هغه وخت په تاجیکستان کې اشوب و او ګډوډي وې؛ نو صبور فرید هم راسره ارګ کې یو ځای سو. مېلمانه مو په حرمسرای کې ځای پر ځای کړل.

زه او صبور فرید بېرته را ښکته سوو؛ نو په دا صوف کې چې له حرمسرای څخه د ارګ محوطې ته راوځي، [د حرمسرای سرپټي دروازه] دلته راروان وو. د خدای پاماني په وخت کې صبور فرید راته ووېل:

- کرزی صاحب چقه تبلیغ میشد، که اینجا هر چیزش طلایی است؟ تشنابهایش لاجورد است؟ که چی است، که چی است!!؟؟

پشت پاچا چقدر دروغ گفته شد. خدا میداند که پشت ما چی بگوید؟!

دا ماته ډېره جالبه وه. ویل يي دا خو عادي ځای و. دا خو داسي خاص ځای نه و، دا خو په دنیا کې چې هر کور ته ورسي داسي ځایونه سته، بیا نو موږ ارګ ته تلو راتلو، داسي خاص څه نه و.

**سحر:**

- هغه وخت چي تاسي اول ځل ارګ ته راغلاست ارګ جوړ و، که زیانمن شوی و؟

**کرزی:**

- ارګ جوړ و. د هغه وخت څخه چي له اعلیحضرت او داوود خان څخه پاتي و، خلق و پرچم هغه سهي ساتلي و. د هغوی دا کمال و چي هيڅ شی نه و شوربډلي، هر څه سره ځای پر ځای و.

بیا هلته چور شروع سو، غالی ځيني ولاړې، ښه شیان ځيني ولاړل. هر ځوک چي به هلته ورغی، شیان به يي ځيني اېستل.

زاړه شیان به يي ځيني اېستل؛ پېدې نامه چي دا زاړه دي نوي راوړو، تاريخي او اساسي شيان به يي اېستل.

نو د ارګ چور و چپاول د مجاهدینو په شپو کې شروع سو.

**سحر:**

دویم ځل چي د موقتي اداري رئیس شوئ، ارګ ته راغلاست څه احساس مو درلود؟ هغه وخت د ارګ حالت څنګه و؟

**کرزی:**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

- زه چې کله په موقته اداره کې د رئیس په توګه وټاکل سوم، په شاه‌ولي کوټ کې وم. د کندهار په شمال کې، کله چې بیا راغلم کندهار ښار ته او فیصله وسوه چې څلور پنځه شپې وروسته کابل ته راځم؛ نو خلک را ټول سول.
خصوصاً دا قوماندانان او مجاهدین. ویل یې چې ته به له ځانه سره سرې بیایې. چا ویل زر کسه، چا ویل درې، چا ویل څلور زره. دا درسره بوځه په ارګ کې یې د امنیت لپاره ځای پر ځای کړه. ما د سیمې مشران او د نور افغانستان چې څوک هلته و را وغوښتل. مشوره مې ورسره وکړه، زما خپله خوښه دا وه چې زه مطلق یوازې راسم. هیڅوک راسره نه وي. هلته چې هر محافظ دی، د هر ځای چې دی، هغه به زما محافظ وي. افغانان دي، زه یې رئیس جمهور یم، ټول ماته یو شان دي؛ نو دا فیصله دا مشرانو راسره ومنله؛ بلکې د دوی هم پیشنهاد همدا و.
نو ارګ ته راغلم چې متاسفانه ډېر وران و، ډېرې زړې کوټې وې، هیڅ شی نه و؛ خو هغه پخواني خلک چې په ارګ کې پاتې و، هغوی لهٔدې ارګ او لهٔدې خاورې سره سخته مینه لرله. ها له پخوا چې پاتې وو، لکه یوسف کاکا[باشي یوسف] شېراغا کاکا، وکیل کاکا دوی د ارګ پاتې شیان ډېر ښه ساتلي وو.
که څوکۍ پاتې وه، که تخت پاتې و، که غالۍ پاتې وه، ډېر ښه یې ساتلي وو. هغه د جنګونو ورانۍ؛ خو جدا خبره وه. هغه د طالبانو د شپو چې عرب راغلل او دا زموږ پر غالیو یې چې د مجسمو عکسونه او تصاویر په رنګ تور کړل، د مرغانو سرونه کشلي او زمریان یې مات کړي وو، دا خو بیل شی و. په ارګ کې د اوسېدو ځای نه و. د ناستې ځای یکې نه و؛ نو کرارکرار مو اول ځینې اساسي شیان چې د خارجي مېلمنو د راتګ لپاره لازم وو، تنظیمول.که یو خارجي مېلمه راځي، باید دلته په عزت واوسي او له افغانستان څخه ښه انتباه واخلي او ولاړ سي.
نو مو حرمسرای ته توجه وکړه، یو څه مو پاک کړ. بیا نو خواجه صاحب یې کوي[خواجه ذین‌العابدین صدیقي د حرمسرای معتمد] له موږ سره د هجرت په وخت کې په تنظیم کې و، څه زاړه شیان چې دی پوهېده، دا ډلې یې وړي؛ دا یې ټول پټ کړي وو او کله چې طالبان راتلل، دی په ارګ کې پاتې سو.
زه چې ارګ ته راغلم؛ نو څو میاشتې بعد دی راته راغی. ویل یې، رئیس صاحب ما خو ځینې شیان دلته پټ کړي دي. پخواني شیان دي، ما ویل چېرې دي؟
ویل یې په زېرخانه کې دي. ما ویل راویې باسه؛ نو هغه شیان بیا کرارکرار را واېستل سول.
بیا مو نو په الماریو، په دهلیزونو کې کېښودل. بېرته مو سمبال او جوړ کړل. نقاشی مو را واېستې، نوې نقاشی مو هم جوړې کړې.
د افغانستان د تاریخي شخصیتونو عکسونه مو جوړ کړل، بیا مو په سلامخانه کې وځړول.
که دې په یاد وي له امان‌الله خان څخه رانیولې، تر سلطان محمود غزنوي، میرویس نیکه، احمدشاه بابا، تر فیض محمد کاتب، ایوب خان، میرمسجدي خان دا ټول مشران مو رسم کړل او په سلامخانه کې مو وځړول.
نور دا شیان جوړ سول، دا د مهمانداری لوښي مو پیدا کړل. بیا مو هغه لوښي چې له پخوا څخه پاتې وو، را پیدا کړل او خاص مېلمه به چې راغی؛ بیا به مو دا پخواني لوښي ورته ایښودل.
نو دې شیانو ته مو توجه وکړه تر دغه ځایه پورې چې درې څلور کاله پر دې اخته وو. دا آسانه کار نه و؛ ډېر مشکل کار و؛ خو مرسته هم راسره وه.
هغه خویندې او ورونه چې هورې راتلل او کار یې راسره کاوه، ډېره مرسته یې راسره کوله.
بیا مو د ارګ بهرني ماحول ته توجه وکړه. سرکان یې که دې په یاد وي ډېر خراب وو، ډمبر وو، بیا مو د ډېرې کار پکښې شروع کړ. بیا مو دا ګودامونه ابسته کړل. اول مو پوښتنه وکړه چې دا ګودامونه تاریخي ارزښت لري که یه؟
چا راته وویل چې دا تاریخي ارزښت نه‌لري، پنځوس شپېته کاله کېږي چې جوړ سوي دي، ډېر بد ښکاره کېدل.
د دې ګلخانې څنګ ته، دا اوس چې د تشریفاتو میدان دی دلته وو؛ دا ګودامونه مو لېرې کړل.
دلته مو د تشریفاتو میدان جوړ کړ، فوارې مو ورته جوړې کړې. هغه ځای مو جوړ کړ چې مېلمه راځي، د تشریفاتو ګارد یې لهٔمخه تېرېږي.
دغسې بیا مو سلامخانې ته توجه وکړه. بیا مو هغه کړکۍ ورته جوړې کړې چې د هوا جریان پکې وي. هغه ډېرې ښایسته سوې. اول مو فکر کاوه چې دا به څنګه سي؛ خو وروسته ډېر ښه سوو. سلامخانه مو جوړه کړه، چت مو ور جوړ کړ، قندیلان مو ورته راوړل، هغه ګودام چې مجلسونه به پکې کېدل؛ دا مو جوړ کړ.
هغه ارشیف [د ارشیف ودانۍ] چې غټ مجلسونه به پکې کېدل، هغه مو جوړ کړ. دلته مو مجلسونه کول؛ نو کرار کرار سمبدل؛ تر څو دلکشا او کوټي‌باغچې ته نوبت ورسېدئ.
کوټي‌باغچې او دلکشا ته مو بیا ډېره توجه وکړه، دا مو په اته یا نهه کاله کې جوړ کړل. بې‌له عجلې، ډېر دقت مو پکې کاوه. دا خلک هم ډېر راسره په عذاب وو، هغوی چې هورې کار کاوه، ورته ویل به مو چې دا دې ولې داسې جوړ کړی دی چې لږ ښه جوړ سي؛ نو دغه حال ته راورسېدو.

**سحر:**

- د جمهوري ریاست پر مهال مو د ارګ کومې مانۍ او دفترونه خوښېدل؟ زړه مو غوښتل کومه خونه مو د کار دفتر وای؟

**کرزی:**

- ماته دا مهمه وه چې ارګ او د افغانستان د حکومتدارۍ دفتر په هغه تاریخي شکل وساتل سي.

قدامت یې وساتل سي، عزت یې وساتل سي؛ نو هغه دفتر چې اعلیحضرت [پخوانی پاچا اعلبحضرت محمد ظاهر شاه] پکې کار کړی و، هغه مې دفتر کړ. هماغه د افغانستان تاریخي دفتر دی. دفتري کار مې هیڅکله بل ځای نه دی کړی، ملاقاتونو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

مختلفو ځايونو ته تلم؛ خو رسمي کار له هغه ځايه څخه کېده چي د افغانستان رسمي دفتر و او هغه ګلخانه وه او د اعليحضرت دفتر و.
بيا نو د ملاقاتونو لپاره به حرمسرای ته تلم. حرمسرای مو جوړ کړ، تيار مو کړ، بيا چي دلکشا جوړه شوه، وروسته چي بيا مو کوټيباغچه تکميله کړه او ډېر ښکلی ځای ځيني جوړ سو؛ فرش مو کړ.
د خانم اعتمادي [د جمهوري رياست د دفتر رياست پخوانی لومړی مرستياله مېرمن حميرا لودين اعتمادي] راميکا[ د جمهوري رياست د ساتني او څارني رياست سلاکاره راميکا احمد] او خرم صاحب [د جمهوري رياست د فتر پخوانی ريس عبدالکريم خرم] دي کور ودان وي، ډېر کار يي پکي وکړ.
کله چي مو فرش کړ، دا خارجيان چي به راتلل حيران به سول چي دا د افغانستان نوم چي دوی اوريدلی و چي دا يو غريب او دربدره وطن دی؛ نو دا تاريخي ځايونه به يي چي وليدل چي د افغانانو اداب به يي وليدل؛ نو بېخي به په يوه جلا تاثر له افغانستانه څخه ولاړل.
هريو به چي راغی، ما به د ارګ او بالاحصار تاريخچه ورته ويله او د انګريزانو، چي څنګه بالاحصار خراب سو، څنګه بيا ارګ له بالاحصاره انتقال سو دي ځای ته او دا اوس زموږ د حکومتداری مرکز دی.
**سحر:**

- کله به مو چي ملاقاتونه کول، يا به کېناستلاست چي کومي مانۍ مو د ملاقات او کېناستو لپاره خوښېدې؟ او آيا پهدې کې مو خپله خوښه عملي کوله، که مو د تشريفاتو او امنيتي کسانو خوښې ته کتل؟

**کرزی:**

- دواړو، پهدې پوري اړه لرله چي څوک راتلی. که د وطن خلک به وو چي هر ځای به سو، پروا يي نه درلوده. کله به په چمن کي سره کېناستلو، کله به په مسجد کي سره کېناستلو.

په هغه شروع کي چي ځای نه و، ډېر ملاقاتونه مو په مسجد کي کړي دي. خلک به چي راغلل بيا به مسجد کي سره کېناستلو او د دوی لپاره به په هغه ارشيف کي کېناستلو چي جوړ مو کړ.
خو خارجيان چي به راتلل، د يوه وطن ريس جمهور يا پاچا به چي راتلی؛ نو بيا به مو ډېر رسمي ترتيبات ورته نيول. ځای به ما پهخپله څو واره وليد، حتی ګلان به مي کتل چي برابر وي.
لوښي برابر وي او تنظيم يي برابر وي. چای يي برابر وي، ورته ويل به مي چي هلکانو چای توري، شني او کافي دا راوړئ. بسکېټ او يو ښه شی راوړئ.
که کاري ملاقات به و، هغه به مو په دفتر کي ورسره کاوه. که تشريفاتي ملاقات به و، هغه به مو په حرمسرای کي کاوه. بيا مو تشريفاتي ملاقاتونه دلکشا ته انتقال کړل او رسمي پراخ مجلسونه به مو د کابيني په مجلس[سالون] کي کول او ځيني مو چي چينايي تعمير[چهارچنار مانۍ] جوړ کړ، هلته کول او په دلکشا کي به مو کول؛ درې څلور ځايه وو.
**سحر:**
کله داسي شوي چي له بهرنيو مېلمنو سره مو ملاقات درلود او برق تللی وي؟ هغه وخت مو احساس څه و؟
**کرزی:**

- (په خندا) ، ډېررر!

په شروع کي خو بېخي ډېر و. برق به نه و، دا جوبايډن چي سناتور و[د امريکا متحدو ايالاتو د پخوانی جمهور ريس مرستيال جوبايډن] چي راغی؛ برق ولاړ. په تياره کي ورسره ناست وم، دوه، درې، څلور واره داسي پېښه سوې ده. بيا نو کرارکرار جوړېدل. بيا مو جنراتورونه پيدا کړل چي برق به ولاړ؛ جنراتور به چالان سو.
څو ځله داسي پېښي سوې دي چي خارجي به راسره ناست و؛ برق به ولاړ. ما به توکه ورسره وکړه چي دا د افغانستان حالات ښيي؛ نو تاسي مرستي ډېرې وکړئ چي برق جوړ سي. دادی ګورئ برق نه راجوړوئ، دا مو حالت دی. هو دا به ډېر پېښېدل، بېخي ډېر.
**سحر:**

- د بهرنيو مېلمنو د پذيرايي پر وخت که به کومه نيمګړتيا رامنځ ته شوه، تاسي به څه چلند کاوه؟ ويل کېږي د المان د جمهور ريس په مېلمستيا کي کباب زوړ او بويناک و؟

**کرزی:**

- يه؛ د المان جمهور ريس نه و. خرابه ډوډی؛ دا خو به ګاهيګاهي پېښه سوه چي ډوډی به مزهداره نه وه. دا دې ډېره ښه پوښتنه وکړه. ډېر فضل د خدای وسو، د امريکې د ريس جمهور معاون چيني [ډيکچيني د امريکا متحدو ايالاتو د جمهور رئيس پخوانی مرستيال] بګرام ته راغلی و او له بګرام څخه کابل ته راتئ.

د شپې ډوډی ته مو امادهګي ونيوله؛ نو دا انورجان دلي و. په ياد دي دی انور حميدي [محمد انور حميدي د جمهوري رياست د ځانګړي پخلنځي مسوول]؛ نو ما ورته وويل، ډوډی تياره کړه.
ډوډی چي يي تياره کړه؛ نو په هغه ګړی چي معاون د رئيس جمهور حرکت راکوي، راځي؛ هلته د بګرام په دروازو کي کوم انفجار وسو؛ نو هغوی د امنيتي دلايلو له وجي دا ملاقات لغوه کړ او بېرته امريکې ته ولاړ.
موږ ويل ښه دی چي ولاړ، دا ډوډی به وخورو ډوډی مو چي راوړه، ګورو د غوښو بوی تلئ؛ ډېري خرابي غوښي وي. نو ما انور ته وويل چي خدای دي خوار که انوره، ښه ده چي دا مېلمه نه دی راغلی.
نو دا يوه پېښه سوې وه. اما اکثرآ به ښه ډوډی وه. دا خارجيان چي به راتلل، ډېره ښه ډوډی به وه. ډېره جالبه خاطره مي د بوش ده [جورج ډبليو بوش د امريکا متحده ايالاتو پخوانی جمهور ريس].


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

بوش چي راسره ناست و، د غرمي ډوډۍ وه، ډوډۍ مو وخوړه ډېر خوند یي وکړ. ډوډۍ چي مو خلاصه کړه؛ نو شیربرنج راغی. بوش ویل دا څه شی دی؟ ما ویل دا شیربرنج نومیږي، دا داسي دی، داسي دی.
ډېر خوند یي ورکړ؛ نو زه له بوش سره په خبرو اخته یم، دی شاوخوا ګوري. ما ویل څه کوې، څه غواړې؟
ده ویل دا سرې څه سو؟ ما ویل کوم سرې؟
ده ویل دا چي شیربرنج یي راوړ، ما ویل زه به ورته ږغ کړم چي سرې راغی؛ ده ورته ویل نور هم راوړه.
بس نور یي راوړ، غاب مو ور ډک کړ؛ دا وه.
بله جالبه خاطره مي داوه چي مېرمن کلینټنه راسره ناسته وه، هغه وخت د امریکي وزیر خارجه وه؛ نو د شپي ډوډۍ یي راسره خوړله.
د افغانستان دا کبابونه و شیان مو تیار کړي وو؛ نو د ملا نقیب الله اخوند دي خدای جنتونه په نصیب کړي، ده ماته له کندهاره څخه د انارو رُب را استولي وو، ډېر علا رُب وو.
د بهي رُب یي پکي اچولي وو؛ نو دا د انارو رُب مو له بهي سره مېرمن کلینټن ته کېښودل؛ نو دا چي خوند یي وڅکئ، ډېر خوند یي ورکړ، ویل یي دا څه شی دي؟
ما ویل دا د انارو رُب دي، دا بل بهي دي؛ نو حیرانه سوه چي موږ داسي مخلوط شیان لرو، بیا یي راڅخه وغوښتل، بیا مو ورتیار کړل له ځانه سره یي یوړل.
بل شی چي ډېر د خارجیانو خوښ سول، دا زموږ وطني بهي نه دي؟ دا کوچنیان چي ریزش وکړي یا زکام سي بیا یي په اور کي ورته پاخه کړي، د سیني لپاره چي سینه نرموي.
دا مي انورجان ته ویل چي دا خو د افغانانو ډېر ښه خوراک دی، دا خارجیان چي راځي دا ورته پخوئ. له خوږو سره، له فرني یا شیربرنج سره دا هم ورته راوړئ؛ نو دغه شي خارجیانو ته ښېخي ډېر خوند ورکاوه.
نو رقمرقم کیسي وي، خوراکونه به مي ورته معرفي کول، هر خوراک به یي چي راوړ، ما به ورته معرفي کاوه چي دا شی دی دا دادی او دا دا وخت خوړل کېږي، دا د دې ځای، د افغانستان دی.
**سحر:**
له بهرنیانو سره د ملاقات په وخت کي د کېناستلو لپاره مو کوم ځانګړی مقصد درلود؟ د مصر د انورسادات سلاکار حسنیین هیکل پخپلو خاطراتو کي لیکي چي انورالسادات به له بهرنیانو سره د ملاقات په وخت کي د مانۍ په هغه ځای کي کیناست چي میلمنو ته د مصر اهرامونه ښکاره شي، مقصد یي داو چي نورو ته ووایي زه د هغه ستر تمدن استازی یم. تاسي کله همداسي کوم هدف لرلی دی؟
**کرزی:**
هو هو، ډېر مو داسي کول. هغه ځای به کېناستم او مېلمه به مي په هغه ځای کي کېښناوه چي ډېر پراخ وي، ډېر شی ووینې چي د تابلوګانو خواته یي مخ وي او چي بیا به له مجلسه را ولاړ سوو؛ نو کرکۍ ته به مي ودراوه.
دا ماحول به مي ورښکاره کړ. دا زړي وني به مي ورښکاره کړې. دا چنارونو ته به مي اشاره کوله چي دا د دومره سوو کلونو چنارونه دي، هره ورځ به مو دا کار کاوه.
**سحر:**
سیاسي مقاصد خو مو نه پکي لرل؟
**کرزی:**
– نه؛ بس دي کي مو د افغانستان معرفي مقصد وه چي د افغانستان معرفي پکي وسي چي انتباه یي د افغانستان په اړه ښه وي.
چي ښېرته ځي چي دا بدبختي او بدنامي چي موږ ته د پردو لهخوا راغلي دي، دا بدنامي ښېرته بدلي شي.
په نېکو په عواطفو او د افغانستان په ښېګنو بدلي شي او له نېکو خاطرو سره ښېرته ولاړ سي. کیسي به مي ورته کولي، داستانونه به مي ورته ویل، شعرونه به مي ورته ویل، د افغانستان ساز و موسیقي؛ دابه مي ورته ویل.
چي یو شی به په دنیا کي د افغانستان په باره کي په چا ښه لګېدئ، دا به مو یادونه ورته کوله. هراتي دسمالونه به مو ورکول، تحفي به مو پهدې دسمالونو کي ورکولي.
**سحر:**
- تاسي نږدي ۱۴ کاله په ارګ کي واست، اوس هلته نه یاست؛ څوک چي یو ځای واوسي د هغه ځای او کور له دېوالونو سره یو ډول عادت او مینه پیدا کړي، تاسي چي اوس هلته نه یاست یا په لومړۍ ورځ ترې ولاړئ، څه احساس مو کاوه؟
**کرزی:**
- نهنه؛ په هغه کور کي چي زه اوسېدم په نمبر یک [لومړی نمبر مانۍ] کي، ټول ارګ مي جوړ کړ؛ خو هغه ځای مي جوړ نهکړ.
هغه همداسي پاتي سو، لکه په اول سر کي چي و. نه مي غوښتل چي کورنی مي له یوه مجلل ځای سره عادت سي. بس هماغلته عادي اوسېدلو او دا نوی کور چي یي را جوړ کړ[د ارګ په ساحه کي د ولسمشر کرزي د واک په وروستیو کي یوه ودانۍ چي ویل کېدل د هغه کور به وي؛ جوړ شو. اوس پکي د حکومت د اجراییه ریاست دفترونه دي او په سپیدار مانۍ مشهوره ده] هلته هم چي نهولاړم، په همدې وجي و.
دا یو ډېر مجلل ځای و او ما نه غوښتل چي زما اولاد په یوه مجلل ځای کي غټ سي او دوی لهدې ځایه څخه د خپلوانو، همصنفیانو او دوستانو کره ځي.
بیا د خپل او هغوی د ماحول فرق ګوري؛ نو ما ویل چي پهخپل محیط کي لوی سي؛ نو هیڅ احساس به د دې ونه کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

قطعاً؛ بلکې ډېر خوشحاله وم چې ترې راوتلم. ډېر خوشحاله وم چې راشم او ژر ځيني راووځم، ډېره بېړه مې درلوده.

**سحر:**

- په ارګ کې قتلونه او حادثې شوې دي، ځينو واکمنو دا ښه نه‌دي ګڼلي او آن په همدې خاطر له ارګه وتلي. لکه چې د حفيظ‌الله امين په اړه ويل کېږي چې په همدې خاطر يې دفتر له ارګه تاجبېګ غونډۍ ته ولېږداوه؛ تاسي ته کله‌کله دا وسوسه نه پيدا کېده؟

**کرزی:**

- هو دا ځای چې مو جوړاوه، څو قبرونه مو پيدا کړل. دا د ملي امنيت [د ملي امنيت شورا]نوې وداني مو چې جوړوله هلته هم وو.

د تشريفاتو ميدان شاوخوا کې لس، دولس جسدونه پيدا شول. موږ اول فکر وکړ چې دا داوود خان مرحوم کسان دي بيا چا به ويل چې دا به حبيب‌الله کلکانی وي.

بيا مو معلومات وکړل؛ نه داوودخان و نه کلکانی و. مظلومان وو خدای خبر چې څوک به وو. ډېرش کاله دمخه خاورو ته سپارل شوي وو.

**سحر:**

- په ارګ کې د دا ډول پخوانيو شويو پېښو په اړه مو د ځينو نورو غونډې کوم بد احساس نه درلود؟

**کرزی:**

- نه‌نه؛ ماته دا احساس نه و. ماته ارګ د افغانستان د قدرت ممثيل ښکارېده. عزت يې راته درلود، قدر يې راته درلود او د افغانستان د ملت کور مې باله. په هغه سترګه مې ورته کتل، په‌دې خاطر مې کوښښ دا و چې ډېر ښايسته واوسي. د افغانستان د خلکو نماينده‌ګي وکړي، د افغان ولس نماينده ګي وکړي. د لطافت، نرمۍ او مهمانوازی نماينده‌ګي وکړي؛ نه داسي نه و.

**سحر:**

- په ارګ کې مو د رخصتۍ او وزګارتيا وخت څنګه تېراوه؟

**کرزی:**

- رخصتي خو نه وه؛ نو ګرځېدم به.

کله‌کله به مازديګر راووتم چې ورځ به مې بېکاره وه. خصوصاً ماسپښين په درې بجو مې د اخبارو مطالعه کوله، له مجلسو وروسته به مې بيا کله‌کله د اخبارونو مطالعه ونه‌کړه، بيا به راووتم.

پر ارګ به وګرځېدم چې کوم کار ښه روان دی، کوم کار بد روان دی. په ياد به دې وي چې داسي به ولاړم، دوري به مې وکړې؛ خو د چکر او تفريح لپاره به بيا کور ګرځېدم. په کور کې به هغه د چمن پر شاوخوا ګرځېدم.

**سحر:**

تاسي په ارګ کې ځيني ژوي او مرغان هم ساتل، که د هغو په اړه راته وواياست؟

**کرزی:**

- هو ما فيل‌مرغان راوړي وو. هوسۍ مو راوړې. مرغان مو بيا ډېر کړل. توتيان مو تشويق کړل بيا ډير مرغان شول.

توتيان زيات شول، پخوا خو نه وو.

موږ چې حسابل شپېته، اويا توتيان هلته ګرځېدل. آزاد به ګرځېدل، هلته به يې ځاله‌ګی جوړه کړې وه. بس چا به کار نه پرې درلود.

**سحر:**

- په ارګ کې مو د نړۍ د دويم لوړ قد ښتن کس ساتلی و، مقصد مو ترې څه و؟

**کرزی:**

- هو نو؛ د افغانستان يو سړی و. يوه ورځ ماته راغی. ويل يې زه وزګار يم، کار نه لرم، کار راکه.

ما ويل راځه؛ نو دی خوشحاله و چې خلکو ته ځان معرفي کړي چې زه دومره جګ يم. ما ويل راځه ولاړ دې وي. (په خندا) چې د افغانستان جګوالی هم دا خلک ووينې، ډېر ښه سړی و.

**سحر:**

- د سلام‌خانې مخې ته په شنه سيمه کې يو ځل چايخانه جوړه شوه، ويل کېږي تاسي چې هغه ځای وليد، د ژر تر ژره ورانيدو امر مو وکړ، ولې؟

**کرزی:**

- هو هغه وران شی جوړ سوی و. هغه له ارګ سره مناسب نه و چې داسي چايخانه وي. ما غوښتل چې ارګ ټول جوړ سي.

خو د ارګ د ورانۍ چې څنګه وران سوی دی، يوه نمونه بايد تاريخ ته پاتي وي؛ نو په همدې دليل مې د سلام‌خانې مخې ته وران ځای[د سلام‌خانې مانۍ له لوېديځ څنګ سره ويجاړه ودانۍ] چې ويل يې دا چايخانه سي، ما ويل پرېږدو يې چې دغسې پاتي وي. موږ ته رایاد کړي چې بيا دا خپل وطن خراب نه‌کړو.

**سحر:**

- ستاسې په وخت کې يو کس د دربار شاعر هم و، د هغه دنده څه وه، ولې مو ورته د دربار شاعر وايه؟

**کرزی:**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

- هو خدای دې يي وبښي، ښه سړی و. درباري شاعر(په خندا) خو دا داسي د دربار شاعر و چي دربار ډېر ځيني په عذاب و. يو له ماسره يي غرض نه‌درلود، نور يي ټول نه پرېښودل. پر داوودزي يي اشعار ويل، پر خرم به يي اشعار ويل، پر هېوادمل به يي ويل، پر مدبر به يي اشعار ويل؛ تاسي په‌خپل کتاب [د ارګ نن او پرون] کي هم را اخيستي دي. خدای دې وکړي چي اشعار يي پاتي وي او چاپ سي.

**سحر:**

- ستاسي په وخت کي په ارګ کي پسرلنی مشاعرې کېدلي. ځينو به ويل چي کرزی صاحب غواړي، د محمود غزنوي ياد ژوندی کړي او يا له فرهنګ سره خپله علاقمندي وښيي؛ ستاسي مقصد څه و او له‌دې مشاعرو کومه خاطره لرئ؟

**کرزی:**

- ډېرې ښې خاطرې ځيني لرم. په‌دې کي هدف دا و چي د افغانستان د ادبياتو، هنر او کلتوري تشويق په پراخه پيمانه وسي.

زموږ په هېواد کي د پردو په لاس وهنه چي په هغه کي غرب او شرق دواړه شامل و، هم پاکستان هم غربيان. د افراطيت تشويق ډېر په شدت وسو چي د افغانستان کلتور رسم و رواج، ادبيات، دا ښکلا او دا مختلف رنګونه وځپل سي او موږ جهان ته يو تاريک قوم معرفي سو.

نو د مشاعرو پروګرام مو شروع کړ او زما ورسره ډېر شوق و. ډېرې خوشحاله صحني مي يي په ياد دي. ډېر ښه شاعران راغلل. يوه ورځ دا زموږ خورکي دا د خپلواک صاحب لور زما په خيال شفيقه نومېږي، که‌دې په ياد وي دا راغله، يو شعر يي د بيرغ په باب ووايه، ډېره مي تشويق کړه. دا د ځوانانو د شعر او شاعرۍ تشويق مو ډېر کاوه. خصوصاً د جينکو چي مخ ته سي او وړاندي سي او پرمختګ وکړي.

**سحر:**

- د ملت بابا په حرمسرای کي اوسېده، د هغه د ژوند د طرز په اړه که معلومات راکړئ؟

**کرزی:**

- ډېر ارام ژوند يي و. ډېر نېک سړی و. ډېر باعزته انسان و، ډېر نېک انسان و.

ده له‌خپل هېواد افغانستان سره ډېره زبردسته کلکه مينه لرله. دی چي ژوندی و، زه په ارګ کي ډېر خوشحاله وم. په دوو دريو شپو کي به حتماً مازديګر دده ته ورتلم. دا ملاقاتونه مي داسي تنظيم کړي و چي حتماً مازديګر له اعليحضرت سره د چای موقع راپيدا سي؛ نو دی به هم راته انتظار و. ورپه غلم پوښتني به يي راځخه کولي. يوه ورځ ورغلم خوشحاله وم چي زما رنګ ته يي وکتل چي خوشحاله يم، ويل يي: (چطور ايطو خوش استی ريس صاحب؟)

زه ډېر کشر وم د ده د زوی پر ځای هم نه، د لمسي پر ځای وم. ماته ده د حامد خطاب کولی سو او د کرزي خطاب يي راته کولی سو؛ خو ده به چي کله وټاکل سوم، همېشه ريس صاحب راته ويل.

با عزته انسان و؛ نو چي کښېناستم ويل يي: (چطور خوش استی ريس صاحب؟)

ما ويل: ها بسيار خوش استم. ويل يي چطور؟ ما ورته وويل چي امروز پنجصد ميليون دالر کتی ما کمک شده. غوږ ته يي لاس ونيو ويل يي چند؟ ما ويل: پنجصد ميليون دالر. ده خو هغه پخوانی کابلی فارسي ويله، ويل يي: بووووييييی مه ګفتم خی پنجا ميليون، پنجصد ميليون دالر.

ما ويل هو، پنجصد ميليون دالر. ويل يي : بووو بييی (خندا). خدای دې يي وبښي، ډېر ښه سړی و. نو کيسي به يي راته کولي سره ناست به و، ډېر خوند يي کاوه.

**سحر:**

- آيا احساس مو نه کاوه چي يو بل پاچا هم په ارګ کي دی؟ که څنګه؟

**کرزی:**

- نا؛ ولاړم پسي رامي وستئ، دا مي هدف و چي دی به راولم. په هغه کور کي چي دی اوسېدئ، دی به بېرته ځای پر ځای کوم.

هماغه د پاچاهي عزت او حرمت چي د ده حق و، هغه بايد ورسره وسي او هماغسي مي پاله او هغسي مي ورسره وکړل. ډېرو نه غوښتل چي دی راسي چي زه نه وای چېرته راته.

**سحر:**

- په لومړيو وختونو کي ستاسي ساتونکي غير افغانان و، آيا له هغوی سره مو د ځينو ملاقاتونو په وخت کي ستونزه نه لرله؟

**کرزی:**

- ډېر، ډېر؛ ډېره سخته صحنه وه.

د مجبوريت صحنه وه. هغه داسي و چي يوه ورځ ماښام خليلزاد صاحب [په افغانستان کي د امريکا متحده ايالاتو پخوانی سفير زلمی خليلزاد] او مکنيل [په افغانستان کي د نړيوالو ځواکونو لوی قوماندان] کورته راغلل. چي ستا ژوند ته خطر دی او دا دی، دا دی. موږ راپورونه اخيستي چي پر تا حملې کېږي او ته بايد خارجي محافظين ولرې.

ما دا خبره رد کړه، ما ويل زه دا خبره نه منم، بيا راغلل، بيا راغلل.

بيا ما له جهادي مشرانو استاد سياف او قومي سپين ږيرو سره مشوره وکړه. اوله مشوره مي د لغمان له خلکو سره وه. په هغه ورځ پنځوس، شپېته کسه د لغمان خلک را روان وو او په دا لوړ د کابيني مجلس[په ګلخاني مانۍ کي د کابيني د غونډو سالون] کي راسره ناست وو. ما دلته ورته وويل چي دغسي پيشنهاد راته سوی دی، دا زه څنګه کړم؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هغوی راته وویل چې ویې منه چې محافظت دې وسي او بیا خلک و روزل سي. دا د روزلو خبره هغوی را په فکر کړه؛ نو دغسې نه پوهېږم، د پنجشیر خلک وو که د پروان خلک وو.
اووه، اته ولایته راغلل له هغو سره مې سلا وکړه. هفته بعد مې بیا ورته وویل چې سمه ده.
بیا نو راغلل. دوه کاله هوري وو او زه نارامه وم؛ خو کور یې ودان امریکایانو دغه یو کار وکړ چې د افغانستان لپاره یې دا د ریاست جمهوري د محافظت اداره ډېره ښه وروزله. بهترینه اداره یې وروزله او تر اوسه پوري هماغسې پاته ده. دوه کاله که یو نیم کال راسره وو بیا زموږ خپله اداره وروزل سوه، زموږ کسان راغلل دوی ولاړل.
**سحر:**
– په ارګ کې ونې او مختلف ګلان وو، تاسې به هم ابښي وي، چلند مو ورسره څنګه و، پخپله مو هم ابښې دي او نورو بهرنیو مېلمنو به هم نیالګي کېنولي وي، که پهدې اړه راته ووایاست؟
**کرزی:**
– هو ډېرې ونې مو ابښې دي. ګلانو ته مو ډېره توجه وکړه. ګُلکاري ته ګلګلاب او نورو ګلانو ته مو ډېره توجه وکړه؛ خو تر پایه پورې خوشحاله نه سوم؛ نه مو و زده.
ما به ورته ویل داسې وکړئ، دوی به بل کار کړی و. ما به ورته ویل دا شی کېږدئ، دوی به بل شی ابښی و. بیا به ځیني وچ سول؛ خو بس نو مجبور وم، ګوزاره مې ورسره کوله. ما غوښتل چې د ګلانو لهخوا ارګ لا ډېر ښکلی سي، هغسې نه کېدل چې ما غوښتل.
**سحر:**
– د نورو هېوادونه جمهور ریسان او مشران چې به افغانستان ته راتلل، دوی به هم د یادګار په توګه نیالګي کېښول، د ارګ په کومو برخو کې چا دا نیالګي کېنولي؟
**کرزی:**
– هو هو؛ امام علي رحمان [د تاجیکستان جمهور رئیس] ونې کېښودې.
د ترکمنستان ریس جمهور ونې کېښودې، زرداري[د پاکستان پخواني جمهور رئیس اصف علي زرداري] ونې ابښې دي. دا نیالګي یې د دلکشا په شاوخوا کې کېنولي دي، دغسې به چې مېلمانه راتلل، ونې به یې ابښودې.
**سحر:**
– ستاسې په وخت کې په ارګ کې ډېر کارونه ترسره شول، سره لهدې چې تاسې یادونه وکړه، ستاسې په نظر کومکوم پکې ډېر مهم و او تاسې به هم د ارګ جوړونې کار څاره؟
**کرزی:**
– هو هو بېخي ډېر؛ روزمره به مې څاره. دغه نمبر دو[دویم نمبر مانۍ] چې مو جوړوله، دا مانۍ دا کور، دا مو په ډېر زحمت جوړ کړل. شیان به یې ور خراب کړي و.
زه به بس هره ورځ ورتلم، دلکشا ته تقریباً دغسې منظم ورتلم، هغه کوټيباغچې ته به منظم ورتلم؛ نو پهخپله مې ټول کتل.
**سحر:**
– د ارګ په باره کې یوه خبره دا کېږي چې موږ په افغانستان کې داسې تفریحي او تاریخي ځایونه کم لرو، کېدای شي ارګ موزیم شي یا ملي پارک شي، تاسې کله داسې فکر کړی دی او نظر مو څه دی؟
**کرزی:**
– یه؛ نو ارګ ماته د دولت مرکز و. ارګ باید د افغانستان د دولت د مرکز په توګه پاتې سي؛ نه داچې ملي پارک سي.
کېدای سي موزیم پکې جوړ سي، مثلاً د هغو تحفو چې ماته پهدې څوارلسو کالو کې راغلې وې، هغه تحفې ما ټولې دولت ته پرېښودې. که څه اثار وو، که جواهرات وو، اوس هغلته پراته دي. یو موزیم کېدای سي، له هغو څخه جوړ سي چې دا شیان پکې نمایش سي او تاریخي ارزښت یې وساتل سي.
**سحر:**
– د تحفو او سوغاتونو یادونه مو وکړه. تاسې هم نورو بهرنیو مېلمنو ته تحفې ورکولې، که د هغو په اړه معلومات راکړئ؟
**کرزی:**
– ډېرې تحفې مو ورکولې. هغه بله ورځ زما پر تحفو په یوه اخبار کې مضمون لیکل سوی و.
د پوتین [د روسیې جمهور رئیس ولادیمیر پوتین] او د بوش او زما پر تحفو یې مضمون نوشته کړی و چې ما بوش او خارجیانو ته څنګه تحفې ور وړلې. ښې تحفې مې ور وړلې، زبردسته تحفې مې ور وړلې. د افغانستان ښه شیان مې ور وړل، ډېرې مې ور وړلې او د افغانستان معرفي به مې ورته کوله چې دا غالۍ داسې ده. ښې تحفې مې ور وړلې.
**سحر:**
په دویم نمبر مانۍ کې چې ستاسې په وخت کې جوړه شوې ده، یو ډول ډېرې یې پهدېوال کې کار شوې دي چې د ګروپ په وسیله رڼا کوي. دغه راز په نورو مانیو کې هم ښکلې ډېرې کار شوې دي دا د کوم ولایت دي؟
**کرزی:**
ګردې [ټولې] د افغانستان ډېرې دي. څه د هلمند دي، څه دغه نږدې د کابل دي. څه مو له تخار څخه راوړې دي، څه مو له ننګرهار څخه راوړې دي. هر ځای دا ډېرې کار سوې دي، د دې مانۍ په دېوال کې هم کار سوې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ